انجنیر سید عبدالقادر

۱۱/۰۲/۲۸

## دامریکا پوځي دايمي اډي
## يا
## داشغال دوهم دګواښونو ډک پړا و!

لومړي ـــ دپوځي اډوپه وړاندي دافغان ولس او دمنطقي دهيوادونو بالفعل او بالقوه غبر ګونونه :

دوهم ـــ دامريکا دپوځي دايمي اډو دپايلو په هکله لنډه وړاند وينه :

لومړي ــ نيژدي يوه مياشت مخکي دامريکا جمهوريت غوښتونکو دګوند يوه سناتور ( لينزي ګريهام ) په يوه مصاحبه کي زموږ په بي صاحبه وطن کي دخپلو غير مشروع مخو له پاره په منطقه کښي دامنيتي ثبات او دتروريزم پر ضد دمبارزي او دبل ځل له پاره دطالبانو دواک دنه رسيدو په پلمه دڅو امريکايي پوځي دايمي اډو شتون په داسي حال کي ضرور او لازمي وبلي ٠ چه په اوس مهال کښي امريکا او ناټو دواړه په افغانستان کښي ـــ ۲۹ـ لوي پوځي اډي لري ٠ چه دهغي جملي څخه يي ۱۳يواځي هوايي پوځي اډي دي ،چه ددي جملي څخه يې بيا دوي هوايي پوځي اډي په ډيرو عصري تجهيزاتو باندي سمبالي دي ٠ چه ديوي خوا کولايسي په ډيره اساني اسيا، اروپا ( روسيه ، چين ، ايران ،) او هند کنترول کړي، اوله بله پلوه کولايسي چه دنفتو اوتيلو هغه زيرمي چه د کسپيين اوډپارس په خليج کي شتون لري په خپل کنترول کي وساتي ٠ او هم دارنګه د ۲۰۰۹ کال په درشل کي دهلمند دولايت دګرم سير په ولسوالي کي بيا د يوي نوي يا نويښتمي اډي دجوړيدو په تلاش کي سوله ، داسيمه و دوي ته په ستراتيژيکی لحاظ څکه د اهميت وړده ، چي پاکستان او ايران ته نيژدي پرته سيمه ده ٠ بايد ووايو چي دامريکايي سناتور تر څرګندونو وروسته دڅو هفتو له پاره افغاني چارواکو دولس څخه هر څه پټ کړي ، او چيټيا يي اختيار کړي وه ٠ نيژدي يوه اونی مخکي کرزي په يوه خبري کنفرانس کي وويل : حکومت يي له امريکا چاروکو سره ددايمي اډو دجوړولو دقانوني کيدو او ستراتيژيکو جزييياتو په تړاو خبري کوي ، خو په دي اړه به وروستي پريکړه دهيواد پارلمان او لويه جرګه کوي ٠ او زياته يي کړه چي موږ باوري يو چي افغانستان دامريکا سره داوږد مهاله اړيکو ليوالה دي ٠

دامعلومه خبره ده چی په افغانستان کي داشغالي ځواک شتون نه یوازي دامریکا دشومو مخو له پاره دي بلکه د لاس پوځي حاکمیت او دیو ګوچني قشریعني ( بشري او اقتصادي جنایتکارانو ، دغربي نړي څخه راغلي تیکنوکراتانو چی دولس دملي شتمنیوپه مختلیفو برخو کي په چور او چپاول باندي لګیاه دي ) په ګټه هم تمام سوي دي ۰ ځکه نود لاس پوځي حاکمیت واکمنانو او دې قشر نیژدي دلسو کلونو راهیسي په یوه اوبله توګه سعیه او تلا ښ کړي دي چی اشغالي شتون لړي ادامه پیدا کړي ۰د اشغال نیژدي دلسو کلونو په شتون کي دوي وکړایسواي چی ځانونه د سلګونو میلیونو ډالرو خاوندان کړي ، چی نوريي هم ورځ په ورځ دملي شتمنیو چورولو ته یي لاس رسي ډیریږي ، دبله طرفه بیا ولس دخپل سر او مال په ښندنه ددې اشغال په وړاندي یوه ورځ تر بلي ډیره سخته قرباني ورکوي ۰ ځکه نو دامریکا یي اشغالګرو دا دشرمه او دبشري جنایاتو څخه ډک وړاندیز ( پوځي اډودایمي شتون ) د تصویبولوله پاره لاس پوځي حاکمیت دولس دتیر وتلو له پاره د یوي داسي خطرناکي لوبي په تلا ښ کي دي ، چی دهغي لوبي داجندا یعني د دایمي استقلال د پلورني مسئولیت دولس پر اوږو واچوي ۰ هغه دا چی کرزي او دده ډله کوښښ کوي چی دامریکایي اشغالګرو ددې غوښتني وځواب ته ظاهراً داسي بڼه ورکړي ، چی دا صلاحیت ددولت نه بلکه دولس په لاس کي دي ، او دولس استازي باید د ( رد یا هوکي ) ځواب امریکا ته ورکړي ۰ ځکه نوغواړي چی په راتلونکي لویه جرګه اویا هم په لاس پوځي پارلمان باندي یي تصویب او مسئولیت یي بیا په ولس پوري وتړي ۰ په داسي حال کي چی د اوسني پارلمان نیژدي ۹۰ فیصده غړي دبشري او اقتصادي جنایتکارانو یا داوسني لاس پوځي حاکمیت دپیسو او واک په زور چوکي نیولي دي ، چی په هیڅ ډول دولس استازیتوب نه سي کولاي ۰ او هم باید ووایو چی که هره لویه جرګه داشغال په شتون کي راوبلل سي په هیڅ ډول به دملي ګټو په دفاع کي و نه دریږي ، ځکه نو دولس استازیتوب نه سي کولاي ۰ ولي په هر صورت کرزي صاحب به د مشروع پارلمان او مشروع لویي جرګي نوم پر کښیږدي ، او د پوځي اډو دشتون په هکله به یي توله فیصلي مشروع او قانوني وبولي ، او متاسفانه په یوه هسکه شمله به یي امضأ هم کړي ، ولي په هیڅ ډول به دولس په وړاندي کوم مشروعیت ونه لري ۰ دتعجب خبره خولا داده چی دارګ ددفاع وزیر ( عبدالرحیم وردګ ) پر ۱۳ ـ ۲ ـــ ۲۰۱۱ د ( BBC ) سره په مصاحبه کي داسلا مي او افغاني وجدان څخه په لیري فاصله کي دیر ژرپه دایمي وطن پلورلو کي ځان مخ ته کړ او داسي یی وویل : چی زه خپله دامریکا ددایمي پوځي اډو سره هم رغي یم ۰ داسي معلومیږي چی دي غواړي امریکایانو ته ځان دیر صادقه وطن پلورونکي وښي ۰ اووځنګ ته به دپوځي اډو په شتون کي خپل دچور وشرکتونو ته هم وسعت ورکړي ۰

داسي معلومیږي چی دامریکا او کرزي تر منځ د پوځي اډو دشتون خبري نوي نه بلکه ډیره سابقه لري ۰ هغه داچی په حقیقت کي په افغانستان کي دامریکا دپوځي دایمي اډو د شتون منطق دامریکا دستراتیژي دوهم پړاو بلل کیدلایسي ، او ویلایسو چی ددې لوبي ټولو لوبغاړو ته دپوځي اډو دشتون دمنطقو خبره داشغال دلومړي ورځي څخه لا ودوي ته جوه ته وه ، ځکه نو کرزي صاحب چی د هم دې ستري لوبي چی هدف یي ( دمرکزي آسیاه دتیلو زیرمو ته ځان رسول ، دچین او هند دبیساري اقتصادي برمختګ ومخ ته دریدل د ایران مهارکول اود افغانستان اقتصادي زیرمو څخه ګټه اخیستل دي ) عمده لوبغاړي دي ، نو باید د لوبي په هر پړاوباندي دیخوا څخه لا خبر وي ۰ او معلومیږي چی کرزي صاحب نه یوازي په وطن کي دامریکایي پو ځي اډو شتون ته لیواله دي بلکه دمرکزي آسیا ه په هیوادونو کښي هم دامریکایي پوځي دایمي اډو دشتون له پاره یي پخواه لا هم هلي ځلي کړي دي ۰ دبیلګي په ډول : د ۲ـ۶ ـ ۲۰۰۹ کال کي دقزاقیستان په مرکز کي دافغانستان

او قرغیزستان دسفیرانو په ګډ ملاقات کښي دافغانستان دجمهور رئیس وړاندیز دقرغیزستان جمهورر ئیس ( باقي یوف ) ته دیو په یو ملاقات په هکله دافغانستان دسفیر له خواه څخه دقرغیزستان سفیر ته ورکول سوو ، او داسي معلومه سول چی ددې ملاقات اصلي هدف په قرغیزستان کي دامریکا دپوځي اډي دبیرته پاته کیدو دپاره وو، ولي وځنګ ته په افغانستان کي دبیا رغوني له پاره دهمکاري غوښتنه هم سوي وه ۰دا غوښتنه په داسي حال کي وسوله ، چی ازبکستان په خپله خاوره کي دامریکا پوځي اډه ورتړلي وه ۰ باید وویل سي چی امریکا په اوس مهال کي د ټولي مرکزي آسیاه په سطح کي یوازي په قرغیز ستان کي نظامي اډه لري ۰ او داداسي یو هیواد دي چی دروسیي دسیاسي ، اقتصادي او نظامي تاثیراتو څخه په هیڅ ډول ځان نه سي ایستلي ۰ دبله طرفه په مرکزي آسیاه کي دامریکا ښکاره پوځي تهدیدي تلاښونو روسیه ودې ته وهڅول چی په ۲۰۰۳ کال کي په قرغیزستان کي د امریکایي پوځي اډي په وړاندي یوه پوځي اډه جوړه کړي ۰او هم دارنګه د۲۰۰۹ کال په اګست کي دکریملین یو لوړ پوړي مشاور ( سرګي پردو کا ) دڅټک غبرګون دیو ي بلي نوي پوځي اډي دجوړیدو خبرورکړ ۰ او دي چاروا‌کي رسنیو ته وویل ، چی قرغیزستان وروسیي ته د جیو پلیتیک له کبله د ډیر داهمیت وړ دي ، ولي دا پوځي اډه یي د قرغیزسي دولت سره په ګډه جوړه کړي ده ۰ او داسي ویل کیده چی دا سیمه د فرغاني در ه ته نیژدي پرته ده ، چی دازبکستان او تاجکستان سره بیا ګډه پوله لري ۰ ددوي ددې ښو اړیکو تر څنګ نیژدي دوه کال مخکي دروسیي دولت د (۲ میلیاردو ډالرو ) کریډیټ دډیرو آسانه شرایطو سره هم ورکړ ۰چی ددوي د دوستي پر ټینګښت یي نورهم کلک اثر وښندي ۰ هم دارنګه ددې هیواد پارلمان څو ورځي مخکي د قرغیزستان د( چو یسکایا ) دغره یوه جګه څوکه چی ۴۴۴۶ متره جګ والي لري دروسیي دصدراعظم پوتین په نامه کړه ، چی داتوله ددوي تر منځ د پخواني دوستي او ښه ګاونډیتوب او دملي ګټو دنیژدیوالي ډیري ښي بیلګي بللایسو و ۰ځکه نوویلایسو چی دروسیي ددولت په یوه اشاره کیدلایسي دامریکا دمناس په نامه پوځي اډه و تړل سي ۰په داسي حال کي چی دازبکستان دولت بیا دامریکا پوځي اډه نیژدي دري کاله مخکي دازبکستان د اندجان په ښار کي دسختو ناراميو او هم دنورو نوو سیاسي تحولاتو د رامنځ ته کیدو دمخنیوي له کبله وتړل ۰ چی په پایله کي یي دامریکا او ازبکستان تر منځ سیاسي اړیکي ډیري ترینګلي کړلي ۰ اوویلایسو چی د شاینکاي هیوادونو په مرکزي آسیاه کښي دامریکا پر نوو پوځي اډو پر جوړیدو باندي ټولي لاري بندي کړي دي دا ځکه چی ددې پوځي اډو مخي نه یوازي شانګاي هیوادونو ته بلکه د نړي وټولو هیوادونو ته په ګوته دي ۰

دیورتنیو واقعیتونو په نظر کي نیولو سره باید وواېو چی ، په اوس مهال کي په ولسي جرګه او مشرانو جرګه کي دکرزي او شمالي تلوالي تر منځ شخړي هم ددې ځاي څخه سر چینه اخلي ۰ چی دپارلماني ټاکنو دلومړي ورځي څخه د کرزي واکمني دلي کوښښ کړي دي ، چی د نوي پارلمان اکثریت غړي باید د کرزي سره هم ږغي وي ۰ ځکه نو په دې ټاکنو کي یي دځینو رسنیو په حواله ډیري پیسي هم ولګولي ۰ او د کرزي ډلي کوښښ کاوه چی دپارلماني اکثریت په ګټلو سره به دامریکایي پوځي اډو دایمي شتون دپارلمان څخه په آساني تیر او تصویب کړایسي ، او هم به دځان په ګټه په اساسي قانون کي دځینو تغیراتو دراوستلو له پاره په پارلمان کي ډیر هم ږغي ولري ، چی بیا په آساني سره وکړایسي چی په لویه جرګه کي دپوځي دایمي اډو شتون تصویب اوهم په اساسي قانون کي به یي دخپلي خوښي تغیرات دستونځو سره مخامخ نه سي ۰ او هم به خپل پاته هم ګټي سر پرست وزیران دپارلمان څخه په آساني تیر کړایسي ۰ ولي دپارلمان دمصنوعي ټاکنو د لوبي پایلو په ګوته کړل ، چی ( روسي او ایران پلوه ) شمالي تلواله ځیني مخ ته سوي ده ۰ چی په دې سره یي دامریکا او

دکرزي داداري ګډ پلان دګواښونو سره مخامخ کړي دي ۰ ځکه نو داوسني ولسي جرګي جګړه هم ددی ځاي ځخه سر چينه اخلي ۰بايد داهم توضيح کړو چی شمالي تلواله داشغال سره دلومړي ورځي هم رغه اود اشغال په زور يي وميلياردونوغير مشروع ډالرو نو ته هم لاس رسي پيداکړي دي ، چی په واقعيت کي دبهرني اشغال په نه شتون کي ، دسياسي او نظامي پلوه دولس په منځ کي ديوي ورځي بقاهم نه سي لرلاي ۰ ولي داتلواله دروسيي او ايران دپخوانيو اخبئل سوو اړيکو ځخه هم ځان نه سي ليري کولاي ۰ ځکه روسيه او په مجموع کي دشانکايي هيوادونه دامريکا دپوځي اډو شتون نه يوازي په افغانستان کي بلکه دمرکزي آسياه په نورو هيوادونو کښي هم دځان له پاره دګواښونو ځخه ډک تهديدونه ګڼي ۰ حتا داد خپلو ملي ګټو پر ضد يوښکاره عمل بولي ۰چی په دي هکله ويلايسو چی نيژدي يوه اونی مخکي دروسيي بهرنيو چارو وزارت دامريکا دپوځي اډو ددايمي شتون په هکله سخت غبرګون ښکاره کړ ، او ويلي وه چی واشنګټن اوهم کابل دواړو دا موضوع د نړيوالي ټولني سره نه ده طرحه کړي ، او موږ غواړو چی دداوړ سره دنيژدي خبري وکړو۰ او که نه موږ به دمرکزي آسياه په يو شمير هيوادونو کښي هم پوځي اډي جوړي کړو ۰ ولي دبله اړخه بيا روسيه او په مجموع کي دشانکاي هيوادونه دامريکا اوسني جګړه تشويقأ پر حقه بولي ۰ او غواړي چی دامريکا دفساد ځخه ډکه امپراتوري په هم دي هيواد کي دپخواني شوروي اتحاد په برخه ليک باندي اخته کړي ۰ ځکه نو ويلايسو چی په مجموع کي شمالي تلواله دروسيي دغوښتنو سره سم داوسني شکل د اشغال هم رغه ، ولي دبل اړخه بيا د پوځی دايمي اډو سره به خپل کلک مخالفت ښکاره کړي ۰ ځکه نو لويه ځارنوالي هم دجمهوري رياست په زور دولسي جرګي په مصنوعي ټاکنو کي ددرغليو په هکله تر خپلو صلاحيتونو هم لوړي خبري کوي ۰ او داسي معلوميږي چی دولسي جرګي دا شخړو لړی به تر هغه وخته روانه وي ، چی دولسي جرګي ترکيب دکرزي صاحب په ګټه او هم رغي باندي تماميږي ۰

دوهم — دامريکا دپوځی دايمي اډوډپايلو په هکله لنډه وړاند وينه : — دامريکا له پاره يي ګټي په لاندي ډول دي :

۱ — هغه لګښتونه چی امريکا په اوس مهال کي دخپلو اشغالي عسکرو له پاره تر سره کوي دپوځي اډو په شتون کي به دا لګښتونه شايد تر ۵۰ فيصده هم را کښته سي ، دا ځکه چی ددوي لازم او محدود پوځي قطعات به يوازي په اډو کي شتون ولري ،نو په دې صورت کي به دوي په پراخه پيمانه پر عصري پوځی تجهيزاتو باندي تکيه کړ ي وي او بس ۰

۲ — دپوځي اډو په شتون کي کيدلايسي چی د امريکا پوځي بشري تلفاتو کچه هم دسل فيصده ځخه يو فيصد ته را ټيټه سي ، داځکه چی ددوي قطعات به يوازي پرافغان مقاومت او داوس مهال په خير د ولسي خلګو پر کورونو باندي دجنګي الوتکو او لنډ منزله راکټونو دويشتلو ځخه ګټه اخلي ۰

۳ — دپوځي دايمي اډو په شتون کي به امريکا دامکان په صورت کي دخپلي ستراتيژي وهغو اړخونوته هم مخ واړوي کوم چی دآمو په هغه بله خواه کي دتيلو او ګازوپراخي زيرمي لري ۰

— دپوځي دايمي اډو شتون تاوانونه و افغان ولس ته په لاندي ډول وي :

۱— دعامه خلګواو په مجموع کي دافغانانو دتلفاتو دفيصدي کچه به نيژدي دوه برابره سي ۰ دا ځکه چی امريکا او لاس پوځي رژيم يي کوښښ کوي چی دجنګ ډيره برخه د خپلو افغانانو تر منځ يعني ( افغان دافغان سره ) په جنګ اخته کړي ، هغه داچی افغان اجير وسلوال پوځ ( اردو ، پوليس ، امنيت دولتي ) به دافغان مقاوت سره په ورځني جنګونو کي اخته ، او دضرورت په وخت کي به اشغالي پوځونه خپل دخوښي او رانده

بمباردونه کوي ، او په مجموع کې به د تلفاتو زيانونه واوغاني کورنيو ته رسيږي ، او اشغالي ځواکونه به خپلي مستي راته کوي ، دا ځکه چې افغان به يي دافغان سره په جنګ اچولي وي ۰

۲ـ ديوځي اډو په شتون کې به دافغان شتمنيو زيرمي يو په بل پسي به ځيني په پټه وړل کيږي او ځيني به په ښکاره په ګوته کيږي ، او خپلو شرکتوالو او افغاني اقفصادي جنايتکارانو ته به يې په ډيرو آسانو شرايطو او ورپا قيمتونو ( دليلاو په څير لکه انترکانتينيتال هوټل چې يي ورکړي وو ) ورکول کيږي ۰ چې ګټه به يې ولس ته ددې لسو کلونو په څير وي يعني ولس به دخپلو شتمنيو څخه محرو م دباندي پاته وي ۰ چې به نتيجه کې به امريکا دخپلو نورو ګټو وځنګ ته دخپلي خوښي سره سم دبشري او اقتصادي جنايتکارانو څخه يوه نوې طبقه دملي تجارانو په نامه رامنځ ته کړي ، چې بيابه نو راتلونکي حاکميتونه هم ددې جنايتکارانو دکورنيو په ولکه کې وي ۰

۳ ـ جنګ به تر اوسني وخت لاډير شدت ومومي ديوي خواه به دمنطقي هيوادونه او په ځانګړي توګه ګاونډي هيوادونه دخپلو ملي ګټو په نظر کې نيولو سره به دامريکا ددې پوځي اډو په وړاندي په يوه او بل ډول به په ډير شدت سره به غبرګونونه ښکاره کوي ، حتا ويلايسو چې په دې غبر ګونونو کې به روسيه بيرته د امريکا او ناټو پر قواوو باندي دروسيې او مرکزي آسيا ه له لارې نه اکمالاتي لاره بنده کړي ۰

ـ او بايد ووايو چې امريکا دنړې په اوسنيو شرايطوکي اوپه ځانګړي توګه د خپل بې ساري وران اقتصاد باندي دامکانه ليري معلوميږي چې دوي دي زموږ په وطن او منطقه کې خپلو نا پاکو مخو ته ورسيږي ۰ دا ځکه چې دځينو رسنيو په حواله چې د امريکا د۲۰۱۱ کال دولتي بوديجه يي (۸ ، ۳ ) ترليونه ډالره او دبود يجي کسر يي په ځينو رسنيو کې ( ۱،۴ ) او ( ۱،۶ ) ترليونه ډالره په ګوته کړي دي ، يعني يابه ( ۸۴ ، ۳۶ ) سينته يا به ( ۱، ۴۲ ) سينته دهر ډالر په مصرف کې قرضوي چې ددې کسر په نتيجه کې دامريکا قرض په اوس مهال کې و( ۱، ۱۴ ) ترليونو ډالرو ته رسيدلي دي ۰ چې داقتصادي پلوه دايو ښکاره حقيقت دي چې که يو تجارتي موسسه او يا تجارتي بانک مصرفونه تر عايداتو ډير سي نو په هغه صورت کې دا مو سسې لغوه او بانکونه بيا بانکوټ کيږي ، ځکه نود امريکا امپراتوري په اوس مهال کې ددې تجارتي موسساتو په څير په داسې يوه نازک حالت کې قرار لري ۰

ـ بايد په ښکاره ډول ووېل چې که دامريکا پوځي اډي تر ۲۰۱۴ کاله وروسته په افغانستان کې پاته سي ، د افغان مقاومت او دمنطقي دهيوادونو غبرګونونه دا په ګوته کوي ، چې ډير ژر به دا پوځي اډې وتړل سي ، چې په هغه صورت کې نودادامريکا له پاره يوازي نظامي ماته نه بلکه يوه لويه سياسي ماته به هم وي ، چې تلافي به يې وامريکا ته دامکانه ليري خبره وي ۰

په وروستي برخه کي بايد ووايې چې ځيني افغان روښنفکران داسي فکر کوي چې ديوځي اډو شتون به په افغانستان کې دامنيتي ثبات ، پرمختګ او د ګاونډيو هيوادونو دلاس وهنو دمخ نيوي سبب به وګرځي ۰ په داسي حال کې چې ديوځي اډو شتون به نه يوازي دولس په ګټه دپر مختګ خنډ وګرځي بلکه ګاونډي هيوادونو او حتا دمنطقي هيوادونو ته به هم دلاس وهني زميني برابري او وطن به نور هم داور ولمبو ته ور پوري وهي ۰ ولي بنه او پر ځاي دافغانستان ، منطقي او نړيوالو په ګټه يوازني وريانت دافغانستان داوسني کشالي سياسي حل دي ، چې دملګرو ملتونو په منځګړيتوب يو نړيوال کنفرانس راوبلل سي ، چې په هغه کې نه يوازي دجنګ دداوړو خواوي بلکه يو شمير افغان ملي ګټو ته وفاداره افغان سياسي کاپوهان ، دملي ډموکراتيکو ګوندونو استازي او محلي شخصيتونه ګډون وکړي ، او په افغانستان کې اوسني تاو تريخوالي ته دپاي ټکي کښيږدي ۰

تمت باالخير

far si    R U: اخځ

: ريا نووستي

ویریمیا نووستی: